مؤسس: عبدالرووف بینوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

ورځپاڼه
هېواد

یکشنبه | ۱٤٤٨/۰۱/۱۲ هـ ق | ۱٤۰۵/۰٤/۷ هـ ش | 2026/06/28 م | خصوصي ګڼه: ۷۱ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰٤۲ مه | دوره: اتمه

د بهرنیو چارو وزارت:

قونسلي خدمتونه د افغانانو حق دی؛ باید له سیاسي ملاحظاتو جلا وساتل شي

پـه بهرنیـو هېوادونو کې د مېشـتو افغانانو د سـتونزو د حل او د هغوی د قانوني اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د افغانستان اسـلامي امارت د قونسلي خدمتونـو پراختیـا د خپلـې بهرنۍ تګلارې له مهمـو لومړیتوبونو څخه ګڼي. د اسـلامي امـارت چارواکي ټینګار کـوي، چې افغـان وګړو ته د پاسپورټ، تذکرې، تصدیقونو او نورو اړینو کونسلي خدمتونو وړاندې کول باید له سیاسـي موضوعاتو سـره ونه تړل شي.

د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي چارو دویم رئیس، ذاکر جلالي، ویلي، چې اسـلامي امارت هڅه کـوي په هغو ټولو هېوادونو کې چـې افغانان پکې ژوند کـوي، د قونسـلي خدمتونو د وړاندې کولو زمینه برابره او د هېوادوالو لاسرسـی دغو خدمتونو ته لا اسـانه کړي. د نوموړي په وینا: د یوه مسئول حکومت په توګه د اسـلامي امارت موخـه دا ده چې په بهر کې مېشـت افغانان لـه اداري او حقوقي خدمتونو بې‌برخې نه شي.

جلالي څرګنـده کړې، چـې کله د افغانسـتان کومه سیاسي استازولي یا سفارت د فعالیت له محدودیتونو سره مخ شي، نو طبیعي ده، چې د کونسلي خدمتونو بهیر هـم اغېزمن کېږي او افغان وګړي له ستونزو سره مخ کېږي. ده ټینګار کړی، چې د افغانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره باید کونسلي چارې له سیاسي اختلافاتو او ملاحظاتو جلا وساتل شي.

بلخوا د نړیوالو اړیکو او ډیپلوماسۍ یو شمېر شنونکي هم . . .

۳ مخ

د کډو کتو هېوادونو سرمنشي:

د افغانستان منزوي کول د سیمې په ګټه نه دی

د کډو کتو خپلواکو هېوادونو سرمنشي د افغانسـتان د منزوي کولو پر ځای له دغه هېواد سره د عملي او رغنده تعامل پـر اړتیا ټینګار کـړی او ویلي یې دي چې د افغانسـتان له فعال ګډون پرته د سـیمې امنیت، اقتصادي همکارۍ او سـترې ترانزیټي پروژې بشـپړېدای نه شي. شنونکي د دغو څرګندونو هرکلی کوي او دا د افغانسـتان په اړه د سیمې د هېوادونو د دریځ د مثبت بدلون نښـه بولي. د کـډو کتو خپلواکـو هېوادونو سرمنشـي سـرګي لبدیـف ویلي، د افغانستان منزوي کول د ستونزو د حل لاره نـه ده، بلکـې د بن‌بسـت د دوام سـبب ګرځي. نوموړي ټینګار کړی، چې د سیمې . . .

۳ مخ

روسیه:

د افغانانو کنګل شوې شتمنۍ باید له سیاسي فشار پرته بېرته ورکړل شي

د افغانسـتان د کنګل شویو شتمنیو د ازادولـو موضـوع یـو ځـل بیا په نړیواله کچه مطرح شـوې ده. روسي چارواکي ټینګار کـوي، چې د دغو شـتمنیو د کنګل کېدو مسـئولیت د امریکا او اروپایـي هېوادونو پر غاړه دی او همدوی باید د افغان ولس دغه حق بېرته ور وسپاري . . .



۳ مخ

په تېرو درېیو میاشتو کې هېواد ته د نږدې ۹ زره بهرنیو وګړو تګ راتګ ثبت شوی

د احصاییې او معلوماتـو عمومي اداره وایـي، چـې د ۱۴۰۵ کال په لومړیـو درېیو میاشـتو (وري، غویـي او غبرګولـي) کـې یې د هوایـي ډګرونو او ځمکنیو بندرونو لـه لارې هېواد ته د ۸ زره او ۵۶۰ بهرنیـو وګـړو تـګ او راتګ ثبت کړی دی.

یادې اداري زیاته کړې، ثبت شوي ارقام ښـیي، چې په دغه موده کې د ۱۹۱ ښځینه‌وو په ګډون ۴ زره او ۵۶۸ بهرني وګړي هېواد ته راغلي او د ۱۲۱ ښـځینه‌وو پـه ګډون، ۳ زره او ۹۹۲ نـور له هېـواده وتلي دي.

بل خـوا، د ثبت شـویو ارقامو له مخـې، ۴ زره او ۵۰۳ کسـان د ځمکنیـو بندرونو او ۶۵ تنه نور د هوا لـه لارې هېواد ته راغلي، چې لـه دې ډلې یې ۶۰۹ تنه د هېواد د لرغونو او تاریخي سیمو د لیدني او پاتـې نور یې د کار په موخه راغلي دي. د دې اداري د ثبـت شـویو ارقامو پر بنسټ، تر ټولو ډېر بهرني وګـړي (۲ زره او ۷۱۸) د نیمروز بندر او ورپسې ۱۴۶۲ تنه د هرات د ځمکنیو بندرونو او هرات هوایي ډګر، ۲۶۴ تنـه د فاریـاب اقینې بندر، ۶۲ تنه د بدخشـان اشکاشم بندر او پاتې نور یې د حیرتان بندر او بلخ هوایـي ډګر له لارې هېواد ته راغلي دي

هېواد کې د طبیعي پېښو له امله نږدې ۲۰۰ کورنۍ زیانمنې شوې

له پېښو سره د مبارزې امادګۍ اداري مسـئولینو ویلي، چې پـه تېرو ۲۴ ساعتو کې، د طوفان، غر ښویدنې او سېلابونو د راوتلو له امله د هېواد په ۸ ولایتونو کې ۵ تنه هېوادوال شـهیدان شـوي دي.د یادې اداري د اطلاعاتو او نشراتو رئیس او ویاند حافظ محمد یوسـف حماد په یوه ویډیویي پیغام کې ویلي، چې د یادو پېښـو له کبله ۳۰ کورونه او ۱۵ هټۍ . . .

۳ مخ

سرلیکنه

قدرتي پېښې او د احتیاط اړتیا

د قدرتـي پېښـو مخنیوی د انسـان لـه واک څخـه بهر دی؛ خـو د احتیـاط، چمتووالـي او سـم چلنـد لـه لارې یـې د زیانونـو کچه راکمېدای شـي. شـته واقعیتونه دا پـه ډاګه کوي چـې هـر کال بارانونـه، سـېلابونه او زلزلې د خلکـو ژوند، کورونـه او اقتصـادي سـرچینې زیانمنوي. له همـدې امله د طبیعي پېښـو پر مهـال احتیاط د هر انسـان مسـئولیت دی، ځکـه ډېر زیانونـه د بې‌احتیاطۍ لـه امله هـم رامنځته کېږي. د کنـړ ځایي مسـئولینو ویلي چې د تېرې شـپې سـېلابونو په دغـه ولایت کې درانـه مالي زیانونـه اړولـي دي. د معلوماتو لـه مخې، شـاوخوا ۲۰۰ کورونه ویجاړ شـوي او نږدې ۲ زره جریبه کرنیـزه ځمکه هم تخریـب شـوې ده. دا زیانونه د ګڼو کورنیـو پر ژوند او اقتصـادي وضعیت مسـتقیم اغېز لري او د طبیعي پېښـو پر وړاندې د لا زیـات چمتووالي اړتیا څرګندوي. په وروسـتیو ورځو کې په خپرو شـویو ویډیوګانـو کې ولیدل شـول چې ځینې کسـان د سـېلابونو منـځ تـه ورننوځي، څو د سـون توکو لپاره لرګـي راوباسـي. دا ډول کړنـې د ژوند له سـتر خطر سـره مخامخ کـوي. هېڅ مادي وسـیله د انسـان د ژوند ارزښـت نه شـي لـرلای. د سـېلاب او تېـزو اوبو پر مهـال بایـد خلک لـه سـیندونو، ویالـو او خطرناکو سـیمو څخـه لرې پاتې شـي او خپل ژوند له خطر سـره مخ نه کړي. بارانونه او سېلابونه هر وخت د سړکونو، پلونو او استوګنیزو سیمو لپاره هم ګواښ پېښـوي. کورنۍ باید د سـختو بارانونو پر مهال د هوا وړاندوینـې ته پام وکړي، د اړتیا پـه صورت کې خوندي ځایونو ته ولاړې شـي او د ماشومانو د سـاتنې لپاره لازم تدابیر ونیسـي. احتیاط کولی شـي د ډېرو ناوړه پېښـو مخه ونیسـي. زلزلې هم له طبیعي ګواښـونو څخه دي. د زلزلې پر مهال ارام پاتې کېدل، لـه نړېدونکو دیوالونو او ودانیو څخه فاصله نیول، د خوندي ځایونو پېژندل او د بیړنیو اړتیـاوو لپاره چمتووالی هغه احتیاطي تدابیر دي چې د خلکو د ژوند په ژغورلو کې مهم رول لري. د دغو سپارښـتنو عملي کول د هرې کورنۍ لپاره اړین دي. اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې د قدرتي پېښو پر وړاندې د چټک غبرګون، د مرسـتو د رسولو او د زیانمنو سیمو د بیارغونې لپاره هڅې کړې دي. ورسـره جوخت د اوبو بندونو، اسـتنادي دېوالونو او نورو محافظتي پروژو پلي کول هم د اوږدمهاله حللارو برخه ده چې د ورته پېښـو د زیانونو په کمولو کې مرسـته کوي. د کنړ او ننګرهار وروسـتۍ پېښـې یو ځل بیا دا پیغام لري چې د طبیعي پېښـو پـر وړاندې چمتووالـی د ټولو ګډ مسـئولیت دی. احتیـاط، عامه پوهـاوی او د اړوندو ادارو لارښـوونو ته پاملرنه کولی شـي د انسـاني او مالي زیانونو کچه راکمه کړي. د انسـان ژوند تر هر څه ارزښـت لري او سـاتنه یې باید د ټولو لومړیتوب وي.

د جهادي اثارو د ساتنې لوی رئیس د ځوانانو د ملاتړ

لپاره خپل وړاندیزونه د روشن مخابراتي شرکت له استازي سره شریک کړل

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د جهادي اثارو د ساتنې لوی رئیس مفتي محمد طاهر احمـد، د روشـن مخابراتي شـرکت له استازي سـره کتلي دي. په دې کتنه کې د ځوانانو د سـتونزو، اړتیاوو او د هغوی مسلکي . . .

۳ مخ

شیخ شهاب الدین دلاور:

اسلامي امارت بې‌بدیله نظام دی



شـیخ شـهاب الدین دلاور له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون په خبري ناسته کې ویلي، چې افغانستان کې د یوه امیر تر قیادت لاندې اسلامي نظام حاکـم دی او هېڅـوک یې نا فرماني نشي کولای.

ښـاغلي دلاور زیاته کړې، له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون د قانون له مخې هېڅوک نشـي کولای چې راسـتنو شویو شـخصیتونو ته ستونزې جوړې کړي.

شـیخ شـهاب‌الدین دلاور ویلـي، اسلامي امارت وکولای شول، چې د خلکو ترمنځ ۴۸ کلن اختلافات پایته ورسوي.

ښـاغلي دلاور زیاته کـړې، دغه راز ټول هېواد کې سرتاسـري امن، د ټولو قشرونو حقونو ته رسېدنه او بېلابېلې نورې هغه لاسـته‌راوړنې دي، چې د اسـلامي امارت په راتګ سره تامین شوي.

نوموړي ویلي، له افغان . . .

۳ مخ

نمایش‌گاه سه‌روزه‌ی اثرهای نقاشی در غزنی گشایش یافت

نمایـش‌گاه اثرهای نقاشـی زیر نام «نقـش خاموش» از سـوی گالری هنری «آرت لند»، روزشنبه در شهر غزنی، گشایش یافت و برای سه روز به روی بازدیدکنندگان باز است.

حمیداللـه نثـار، رئیـس اطلاعات‌وفرهنگ غزنی، در هنگام گشـایش این نمایـش‌گاه می‌گوید که فرهنگ و هنر در اسـلام جایگاه خاصی دارد و باید هنر اسـلامی در چوکات شریعت گسترش یابد.

مسـئول برگزاری ایـن نمایش‌گاه، می‌گویـد که هـدف از برگزاری این نمایـش‌گاه، تشـویق هنرمنـدان و ترویج هنر نقاشی در اجتماع است.

در این نمایش‌گاه ۵۰۰ تابلوی نقاشی از چندین هنرمنـد غزنی به نمایش گذاشته شـده که در نقاشی‌های آن از قلم و رنگ روغنی اسـتفاده شده است.بازدیدکنندگان این نمایش‌گاه، برگزاری چنین نمایش‌گاه‌ها را فرصت خوبی به هدف معرفی هنر نقاشـی برای مردم به وِیـژه علاقه‌مندان هنر نقاشی می‌دانند.

پنجشېر کې د ۶۶ ډوله منرالونو د قانوني کېندنې په موخه د جوازونو د وېش لړۍ پیل شوې

د پنجشېر ځایي مسئولین وایي، چې د عالیقـدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د وروسـتي حکم او د کانونو او پټرولیـم وزارت د نوي کړنلارې له مخې، پـه دغه ولایت کې د ۶۶ ډوله منرالونو د استخراج جوازونو د وېش لړۍ پیل شـوې ده. دغه اقدام د هېواد د کانونو د قانوني استخراج، د طبیعي زېرمو د اغېزمنې استفادې او د اقتصـادي ودې پـه برخه کې

مهم ګام بلل کېږي.

مسـئولین زیاتوي، چې د زمردو او یاقوتو ترڅنګ د نورو قیمتي او نیمه قیمتـي ډبرو د اسـتخراج لپاره هم لازمي اسانتیاوې برابرې شوې دي، څو پانګـوال او اسـتخراجوونکي وکولای شـي د قانونـي چوکاټ له مخې خپلې چارې پر مخ یوسي او د کانونو له شـتمنیو څخه په منظم ډول ګټه پورته کړي.

دوی وایي، د یادې پروسې له عملي کېدو سره به د کانونو په سکتور کې پانګونه زیاتـه، د کار فرصتونه پراخ او د دولت عواید لوړ شي. همداراز به د قیمتي ډبرو . . .

۳ مخ

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د حکومتدارۍ ځانګړتیاوې

احمد ولید کنان

د اسلامي تمدن په تاریخ کې د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خلافت دوره د عدالت، امانتدارۍ، مسئولیت، اداري اصلاحاتو او ولسپالنې له پلوه ځانګړی ځای لري. د اسلامي دولت د پراختیا تر څنګ، د هغه د حکومتدارۍ لویه ځانګړنه دا وه چې د دولت ټولې چارې یې د قرآن کریم، نبوي سنتو او د امت د خیر له اصولو سره وتړلې. همدا ځانګړنه د دې لامل شوه چې د هغه د واکمنۍ لس کلنه دوره د اسلامي دولتدارۍ تر ټولو روښانه پړاوونو څخه شي. د تاریخ مسلمان او غیرمسلمان لیکوالان د هغه د عدالت، ساده ژوند، حساب ورکونې او سیاسي تدبیر ستاینه کوي، ځکه هغه واک د شخصي امتیاز وسیله نه بلله، بلکې د الله تعالی له لوري یې دروند امانت ګاڼه.

د حضرت عمر رضي الله عنه د حکومتدارۍ لومړنی اصل د الله تعالی وېره او د قیامت د ورځې حساب و. هغه باور درلود چې هر حاکم به د خپلې واکمنۍ په اړه د الله تعالی په حضور کې ځواب وایي. د همدې باور له امله یې د خپلې واکمنۍ هره پرېکړه د شرعي اصولو او عامه مصلحت پر بنسټ کوله. الله تعالی فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ) [النساء: ۵۸]. حضرت عمر رضي الله عنه دا الهي لارښوونه د خپلې حکومتدارۍ عملي تګلاره ګرځولې وه. د ده په اند خلافت د واکمنۍ نوم نه و، بلکې د خلکو د حقونو د خوندي ساتلو او د عدالت د ټینګښت ستر مسئولیت و.

عدالت د حضرت عمر رضي الله عنه د حکومتدارۍ تر ټولو روښانه ځانګړنه وه. هغه به تل د رسول الله (ص) دا حدیث په پام کې نیوه: «إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ» (صحیح البخاري، صحیح مسلم).

د همدې اصل له مخې قانون د ټولو لپاره یو ډول و. هېڅوک د خپلې کورنۍ، شتمنۍ، قوم یا مقام له امله د قانون څخه لوړ نه و. همدا مساوات د اسلامي دولت مشروعیت پیاوړی کړ او د خلکو باور یې زیات کړ. د مصر د والي عمرو بن العاص رضي الله عنه د زوی او یوه قبطي ترمنځ مشهوره پېښه د هغه د عدالت ښکاره بېلګه ده. کله چې مظلوم خپل شکایت مدینې ته ورساوه، حضرت عمر رضي الله عنه دواړه حاضر کړل، د مظلوم حق یې ورکړ او بیا یې هغه مشهوره جمله وکړه: «متی استعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحراراً؟» یعنې: «تاسو خلک کله غلامان کړل، حال دا چې میندو یې ازاد زېږولي دي؟» که څه هم د دې روایت د سند په اړه د محدثینو ترمنځ بحث شته، خو د اسلامي تاریخ په معتبرو کتابونو کې د هغه د عدالت د څرګندې بېلګې په توګه ذکر شوی دی.

دحضرت عمر رضي الله عنه د حکومتدارۍ بله مهمه ځانګړنه د قانون واکمني وه. هغه به خپلو والیانو ته ویل چې خلک د الله تعالی بندګان دي، د واکمنانو شخصي ملکیت نه دي. والي د خلکو د خدمت لپاره ټاکل کېږي، نه د هغوی د ځورولو لپاره. هر والي به د خپلې دندې له پیل مخکې د خپلو شتمنیو حساب وړاندې کاوه او د دندې له پای وروسته به هم حساب ورکوه. که د خلکو شکایت به ثابت شو، حضرت عمر رضي الله عنه به بې له ځنډه لازم اقدام کاوه. دا ډول حساب ورکونه د هغه وخت په سیاسي تاریخ کې بې‌سارې تجربه وه.

حضرت عمر رضي الله عنه د اداري اصلاحاتو په برخه کې هم ژور بدلونونه رامنځته کړل. د اسلامي دولت له پراخېدو وروسته یې ولایتونه منظم کړل، د والیانو صلاحیتونه یې مشخص کړل او د دولتي مسئولینو ترمنځ یې د مسئولیت واضح وېش رامنځته کړ. هغه به تل د ورتیا، تقوا، امانتدارۍ او تجربه لرونکو کسانو ته دندې سپارلې. د خپلوانو پالنه، قومي تعصب او شخصي اړیکې د ده د پرېکړو معیار نه وو. د همدې تګلارې له امله د دولت اداري جوړښت پیاوړی شو او د چارو د سمون لپاره مناسب چاپېریال رامنځته شو.

د بیت المال ساتنه د هغه د حکومتدارۍ بله روښانه ځانګړنه وه. حضرت عمر رضي الله عنه د عامه شتمنۍ په اړه ډېر حساس و. هغه به ویل چې د بیت المال هر مال د مسلمانانو امانت دی او هېڅ مسئول د شخصي ګټې لپاره د هغه د کارولو حق نه لري. د زکات، خراج، جزیې او نورو عوایدو د راټولولو او لګولو لپاره یې روښانه اصول وضع کړل. د همدې مالي نظم له امله د اسلامي دولت اقتصادي وضعیت پیاوړی شو او د ټولنې بېوزلو قشرونو ته هم لازمې اسانتیاوې برابرې شوې.

د دیوان نظام جوړول د هغه له مهمو تاریخي نوښتونو څخه دي. د پوځ، دولتي کارکوونکو او نورو مسئولینو نوملړونه ثبت شول، معاشونه منظم شول او مالي اسناد ځانګړې ترتیب پیدا کړ. دا اصلاح د دولت د شفافیت، حساب ورکونې او اداري نظم لپاره مهم ګام و او وروسته د اسلامي دولتونو په اداري تاریخ کې د تلپاتې تجربې په توګه پاتې شو.

حضرت عمر رضي الله عنه د قضا خپلواکۍ ته هم ځانګړې پاملرنه درلوده. قاضیان به یې له اجرائیوي ادارو څخه جلا ټاکل، څو د هغوی پرېکړې د زورواکو او چارواکو له نفوذ څخه خوندي وي. هغه به قاضیانو ته ویل چې د محکمې په مجلس کې د دواړو لوریو ترمنځ مساوات وساتئ، څو هېڅوک دا احساس ونه کړي چې د مقابل لوري مقام یا شتمني د قضاوت پر بهیر اغېز لري. دا اصل نن هم د پرمختللو حقوقي نظامونو له مهمو معیارونو څخه دی.

د مشورې اصل د حضرت عمر رضي الله عنه د حکومتدارۍ بله مهمه ځانګړنه وه. الله تعالی فرمایي: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ) [آل عمران: ۱۵۹]. حضرت عمر رضي الله عنه به د امت له مخورو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین سره په مهمو سیاسي، اقتصادي او پوځي موضوعاتو کې مشوره کوله. د عراق، شام او مصر د ادارې، د نویو ښارونو د جوړولو، د بیت المال د تنظیم او د ګڼو نورو مهمو پرېکړو تر شا د شورى اصل موجود و. همدې دود د استبداد مخه ونیوله او د پرېکړو کیفیت یې لوړ کړ.

د ټولنیز عدالت په برخه کې د حضرت عمر رضي الله عنه کړنې د اسلامي تاریخ مهم باب جوړوي. هغه به د شپې د مدینې په کوڅو کې ګرځېده، د خلکو حالات به یې له نږدې څارل او د بېوزلو، یتیمانو او کونډو اړتیاوو ته به یې رسېدنه کوله. په تاریخي کتابونو کې راغلي چې یوه شپه یې یوه ښځه ولیده چې خپل ماشومان د لوږې له امله ژړل. حضرت عمر رضي الله عنه خپله بیت المال ته ولاړ، د اوړو او خوراکي توکو بوجۍ یې پر خپلو اوږو پورته کړه او د هغې کور ته یې ورسوله. کله چې ملګري یې وویل چې زه یې ورم، هغه ورته وویل: «ایا د قیامت په ورځ به زما بار هم ته پورته کوې؟» دا روایت د هغه د مسئولیت احساس او د ولس د خدمت روحیه په ښه ډول څرګندوي.

د حضرت عمر رضي الله عنه په دوره کې د هجري تقویم رسمي کول هم د اسلامي تمدن له مهمو لاسته راوړنو څخه دي. د دولت د مکتوبونو، مالي اسنادو او رسمي چارو د تنظیم لپاره یې هجرت د اسلامي تاریخ د پیل په توګه وټاکه. دا پرېکړه تر نن ورځې پورې د اسلامي امت د تاریخي هویت یوه مهمه برخه ده.

د هغه د خلافت په دوره کې اسلامي دولت د شام، عراق، مصر او فارس تر پراخو سیمو ورسېد. سره له دې پراخوالي، اداري نظم کمزوری نه شو، ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د هرې نوې سیمې لپاره منظم اداري جوړښت، قاضي، والي او د بیت المال مسئول ټاکه. د سرحدونو امنیت، د خلکو د حقونو ساتنه او د مالیاتو عادلانه راټولول د هغه د سیاسي تدبیر څرګندې بېلګې دي.

نن چې نړۍ د اداري فساد، د قانون نابرابر تطبیق، د عامه شتمنیو د ضایع کېدو او د خلکو د باور د کمښت له ستونزو سره مخ ده، د حضرت عمر رضي الله عنه د حکومتدارۍ تجربه ارزښتناک درسونه وړاندې کوي. قانون باید پر ټولو یو ډول تطبیق شي، مسئولین باید حساب ورکوونکي وي، عامه شتمني باید امانت وګڼل شي، د خلکو عزت باید خوندي وساتل شي او د دولت ټولې پرېکړې باید د عدالت او مصلحت له اصولو سره سمون ولري. همدا اصول د هرې بریالۍ حکومتدارۍ د دوام او ثبات لپاره مهم ارزښت لري.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت دوره د اسلامي دولتدارۍ یوه روښانه بېلګه ده. عدالت، امانتداري، شورى، اداري اصلاحات، قضایي خپلواکي، مالي شفافیت، د عامه شتمنیو ساتنه او د ولس خدمت هغه ځانګړتیاوې دي چې د هغه نوم یې د تاریخ په زرینو پاڼو کې ثبت کړی دی. د هغه حکومت وښوده چې کله واک د قرآن کریم، نبوي سنتو او تقوا په رڼا کې وکارول شي، ټولنه د امنیت، عدالت، سوکالۍ او اعتماد فضا ته رسېږي. همدې ځانګړتیاوو د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت د اسلامي او نړیوال تاریخ له تر ټولو بریالیو او اغېزناکو حکومتدارۍ تجربو څخه جوړ کړی دی.

د عرش د سیوري مستحقین

لیکنه: احمد یاسین زعیم ـ (لومړۍ برخه)

حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله (ص) وفرمایل: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ.

ژباړه: اووه ډوله خلک دي چې الله تعالی به هغوی د خپل عرش تر سیوري لاندې ځای ورکړي، په هغه ورځ چې د هغه له سیوري پرته به بل هېڅ سیوری نه وي.

په دې حدیث شریف کې د هغو نېکمرغه انسانانو یادونه شوې ده چې د قیامت د ورځې له شدیدې ګرمۍ څخه به د الله تعالی په ځانګړې رحمت خوندي وي او د هغه د عرش تر سیوري لاندې به آرام ناست وي.

د قیامت د ورځې سختي:

د قیامت ورځ د انسان د ژوند تر ټولو ستره، اوږده ورځ ده. دا هغه ورځ ده چې انسانان به له قبرونو راپاڅېدلي وي او د خپل رب حضور ته به د حساب لپاره راټول شوي وي. الله تعالی د دې ورځې د اوږدوالي په بیان کې فرمایي:

ژباړه: ملائکې او جبرائیل علیه السلام د هغه لوري ته په داسې یوه ورځ پورته کېږي چې اندازه یې پنځوس زره کاله ده.[المعارج ٤]

دا پنځوس زره کلنه ورځ به د مؤمن او کافر لپاره یو شان نه وي؛ مؤمنانو ته به الله تعالی د خپل رحمت له مخې اساني ورکړي، خو د کافرانو او ګناهکارانو لپاره به دا ورځ د نه زغملو عذاب ورځ وي.

د هغې ورځې سختي دومره زیاته ده چې قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي: ژباړه: «که تاسې کفر وکړئ، نو څنګه به د هغې ورځې له عذابه ځان وساتئ، هغه ورځ چې ماشومان به سپین ږیري کړي.[المزمل ۱۷)

د قیامت د ورځې او سختي به دومره زیاته وي چې د ماشوم د سپین ږیریتوب مثال پرې بیان شوی دی.

د لمر نږدې کېدل او د خلکو خولې په صحیح احادیثو کې راغلي چې د قیامت په ورځ به لمر د خلکو سرونو ته دومره نږدې شي چې د سختې ګرمۍ له امله به انسانان په خپلو خولو کې ډوب وي.

حضرت مقداد بن اسود رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به لمر خلکو ته دومره نږدې کړل شي چې یوازې د یو میل په اندازه فاصله به پاتې وي.

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: خلک به د خپلو عملونو له مخې په خپلو خولو کې وي؛ ځینې به تر ښنګرو پورې، ځینې به تر زنګنو پورې، ځینې به تر ملا پورې او ځینې به دومره په خولو کې ډوب وي چې خوله به یې تر خولې پورې رسېدلې وي.

دا توپیر د خلکو د اعمالو له مخې وي؛ هر څومره چې د انسان نېک عمل زیات کړي وي، همغومره به د الله تعالی رحمت پرې زیات وي، او هر څومره چې ګناهونه او ظلمونه زیات وي، همغومره به یې کړاو سخت وي.

یوازینی سیوری:

په هغه ستر میدان کې بل سیوری نه وي. نه به پاچاهي ګټه ورسوي، او نه به شتمني، یوازې یو سیوری به وي، او هغه د الله تعالی د عرش سیوری دی.

همدغه ستر نعمت به یوازې هغو بختورو او نېکمرغه انسانانو ته په برخه کېږي چې د دنیا په ژوند کې نېک اعمال کړي وي.

دا نېکمرغه خلک څوک دي؟

رسول الله ﷺ په خپل مبارک حدیث کې د دغو خلکو اووه ځانګړنې بیان کړې دي. موږ به د همدې لړۍ په راتلونکو برخو کې د هرې ډلې ځانګړنې په جلا جلا توګه بیان کړو، خو مهمې یادونې د دې حدیث له تفصیلي بیان مخکې څو مهم ټکي باید په پام کې ونیول شي:

لومړی: په حدیث کې د سبعة (اووه) کلمه راغلې ده. له دې څخه موخه یوازې اووه کسان نه دي، بلکې اووه ډوله خلک دي. یعنې هر هغه څوک چې دغه ځانګړنې ولري، د همدې زېري مستحق ګرځي.

دوهم: دا فضیلت یوازې د نارینه وو لپاره ځانګړی نه دی، بلکې هغه مؤمنې ښځې هم چې دغه صفات په ځان کې پیدا کړي، د همدې ستر اجر او فضیلت برخه والې دي او د الله تعالی د عرش تر سیوري لاندې به ځای ولري.

دریېم: د عرش تر سیوري لاندې به یوازې همدغه اووه ډلې نه وي، بلکې په نورو صحیح احادیثو کې د نورو هغو کسانو یادونه هم شوې ده چې د ځانګړو نېکو اعمالو له امله به الله تعالی هغوی ته هم دا ستر عزت ورپه برخه کړي.

د دې لړۍ موخه:

د دې صفاتو بیان موخه دا ده چې هر مسلمان خپل ژوند د همدې مبارکو صفاتو په رڼا کې وڅېړي، خپل عملونه اصلاح کړي او هڅه وکړي چې د قیامت د هغې سختې ورځې لپاره ځان چمتو کړي؛ ځکه په هغه ورځ به مال ګټه ونه رسوي بلکې ایمان او نېک عمل به د انسان د نجات وسیله وي.

نور بیا...

افغان اعلانات

د دواطلبي خبرتیا

د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست غواړي د ۱۴۰۵ مالی کال د قرطاسیه باب د تهیې او تدارک پروژه چې تشخیصیه نمبر یې MOTA/DRTK/1405/NCB/G001 ده، د بیع بالتقسیط عقد د عقودو قانونو مطابق ترسره کړي، ټول هغه شرکتونو او متشبثین چې د ګډون علاقه لري، شرطپانه د سافټ په ډول د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست اړوند د مالي او اداري آمریت څخه ترلاسه کړي او خپل آفرونه د شرطپاڼې مطابق، سربسته توګه د خپرولو له نیټې څخه تر (۱۵) پنځلس تقویمي ورځو پورې کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست ته وړاندې کړئ.
د ټاکلې نیټې څخه وروسته رسیدلي او انټرنیټي وړاندیزونه د منلو وړ ندي.
د وړاندیزونو پرانیستنه د اعلان څخه (۱۵) پنځلس ورځې وروسته د سهار په (۱۰) بجو د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست ودانۍ په دوهم منزل د کنفرانس په تالار کې دایریږي.
نوټ: د نورو معلوماتو لپاره لاندې ذکر شویو شمیرو سره په اړیکه کې شئ.
محمد عمر وفا: ۰۷۰۱۱۶۵۲۰۸
عبدالاحد صدیقي: ۰۷۸۲۰۰۲۴۴۰
محمد هاشم صفدري: ۰۷۷۵۵۷۰۳۱۴

اعلان

عنوان پروژه: { تدارک مواد و لوازم صفاکاری}
شماره داوطلبی:
AG/1405/NCB/G-793
و HDSPDE/G-07/NCB/OB/1405
نوع قرارداد: بیع بالتقسیط
لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه { تدارک مواد و لوازم صفاکاری}بابت سال مالی ۱۴۰۵ اشتراک نموده، داوطلبان می توانند سافت کاپی شرطنامه مربوطه را از سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان (https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices?) و یا از آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان بدست آورند، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق اصول تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت } ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل {روز} یک شنبه{تاریخ {۱۴۰۵/۰۴/۲۸{به آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان- ناحیه ششم- کابل- افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.جلسه آفرگشایی به روز{ یک شنبه} مؤرخ{۱۴۰۵/۰۴/۲۸{ ساعت { ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل{ در}بلاک B ، منزل سوم - صالون جلسات مرستیالی مالی و اداری} تدویر می گردد.
قابل ذکر است که ارایه تضمین آفر لازم نمی باشد، اما داوطلبان مکلف اند که اظهارنامه تضمین آفر را مطابق فورم معیاری آن مندرج شرطنامه دقیق خانه پری، مهر و امضا نموده، ضم آفر خویش ارایه نماید،

اطلاعیه لیلام ۱۵ قلم اجناس داغمه جات
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۱۱/۴/۱۴۰۵ لیلام نماید
شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.
۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ میگردد.

اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت زراعت،آبیاری و مالداری یک باب سرد خانه تکمیل شده (۱۰۰) متر یک تن قریه آت چاپر مرکز شهر شبرغان جایداد مربوط ریاست زراعت ولایت جوزجان را از طریق داوطلبی به کرایه میدهد.
متقاضیان واجد شرایط می تواند درخواستی های خویش را به آمریت حفظ تاسیسات، اماکن و املاک واقع وزارت زراعت،آبیاری و مالداری کارته سخی سپرده و خود شان بعد از نشر اعلان مدت ۱۰ یوم مراجعه همچنان شرطنامه اخذ نمایند.۳۰۱۱

اطلاعیه مفقودی

پنج جلد سته فروش وسایط نقلیه از سریال نمبر (۳۱۷۲۱ الی ۳۱۷۴۰) ، (۵۰۸۵۱-۵۰۸۸۰) (۴۲۰۹۱-۴۲۱۲۰) ، (۴۲۱۲۱- ۴۲۱۵۰) و (۵۰۸۸۱-۵۰۹۱۰) با کتاب ثبت از رهنمای معاملات برادران متحد به اسم محترم جواد الله فرزند ایام الدین دارنده جواز نمبر ۳۸۴۳ واقع موتر فروشی های کمپنی ناحیه ۵ شهر کابل مفقود گردیده است .
بناء سته دفتر متذکره از اعتبار ساقط می باشد. ۳۰۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدرت الله فرزند عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالبصیر محمدی فرزند عطا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کفایت الله منگل فرزند نقیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالجمیل نوری فرزند دوست محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روض الدین داوری فرزند دین محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الله صلاحی فرزند نصر الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسیب الله امینی فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد سلام دانش فرزند حاجی محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زبیر رسولی فرزند شهنواز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عارف خان نورزی فرزن الف خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سهراب نیازی فرزند عبدالغنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالخالق لنگر فرزند عبدالقدیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله مومند فرزند عبدالمنان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الطاف احمدی فرزند عیدی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیر بانو امیری بنت محمد حکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید علی بخش فرزند حسین بخش مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۱۸۶

قونسلي خدمتونه . . .

باور لري، چې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان د رسمي استازولیو فعال حضور نه یوازې د افغانانو د قونسلي اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول لري، بلکې له کوربه هېوادونو سره د اړیکو د پیاوړتیا او د متقابلو تعاملاتو د پراختیا سبب هم ګرځي.
کارپوهان وايي: که د افغانستان سیاسي استازولۍ د اوسني حکومت تر چتر لاندې په منظم ډول فعالیت وکړي، نو له یوې خوا به د افغان کډوالو ستونزې په چټکۍ حل شي او له بلې خوا به د افغانستان او کوربه هېوادونو ترمنځ رسمي اړیکې هم لا پیاوړې شي.

د افغانستان منزوي . . .

ثبات او اقتصادي پرمختګ له افغانستان سره د تعامل او همکارۍ غوښتنه کوي.
لبدیف د «پریماکوف غونډو» په نامه د دولسم نړیوال علمي فورم پر مهال ویلي، د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو غړي له افغانستان سره عملي او واقع‌بینانه اړیکې لري او د امنیتي همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي.ده زیاته کړې: «مونږ ښه پوهېږو، چې د افغانستان منزوي کول بن‌بست ته لار هواروي. په اوراسیا کې د افغانستان له ګډون پرته نه سیمه‌ییز امنیت تأمینېدای شي او نه هم اقتصادي او ترانزیتي پروژې په بریالیتوب سره عملي کېدای شي.»
نوموړي همداراز افغانستان د سیمې د امنیتي او اقتصادي معادلو مهم عنصر وباله او ویې ویل، چې د داعش په څېر ترهګرو ډلو پر وړاندې مبارزه او د سیمه‌ییز ثبات ټینګښت ګډو هڅو ته اړتیا لري.
سیاسي شنونکي د لبدیف څرګندونې د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو هېوادونو د دریځ د تدریجي بدلون څرګندونه بولي. د دوی په باور، د افغانستان جغرافیایي موقعیت او ستراتیژیک اهمیت دا ایجابوي ،چې سیمه‌ییز هېوادونه له کابل سره خپلې اړیکې او همکارۍ لا پیاوړې کړي.
شنونکي وايي: افغانستان د آسیا د مهمو ترانزیټي دهلېزونو په مرکز کې موقعیت لري او د سیمې د اقتصادي نښلونې، سوداګرۍ او انرژۍ د پروژو بریالیتوب تر ډېره د دغه هېواد له ثبات او فعال ګډون سره تړلی دی.
د یادونې وړ ده چې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو سازمان دا مهال ۹ بشپړ غړي او یو څارونکی غړی لري. روسیه، بلاروس، ارمنستان، اذربایجان او د منځنۍ آسیا هېوادونه یې مهم غړي بلل کېږي. اسلامي امارت له دغو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا لپاره هڅې روانې ساتلې او په وروستیو کلونو کې د سیاسي او اقتصادي تعاملاتو کچه هم لوړه شوې ده.

د افغانانو کنګل . . .

اقتصادي کارپوهان هم باور لري، چې د افغانستان د خلکو شتمنۍ باید له سیاسي اختلافاتو جلا وساتل شي، ځکه د دغو زېرمو ازادېدل د هېواد د اقتصادي ثبات، مالي نظام د پیاوړتیا او د خلکو د اقتصادي ستونزو د کمېدو لپاره مهم رول لوبولای شي.
د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي: د افغانستان هغه شتمنۍ چې په بهرنیو هېوادونو کې کنګل شوې دي، د امریکا او اروپایي هېوادونو له لوري بندې شوې او د ازادولو مسئولیت یې هم د همدغو هېوادونو پر غاړه دی.
کابلوف له روسي ورځپاڼې «ایزوستیا» سره په خبرو کې څرګنده کړې چې روسیې او د شانګهای همکارۍ سازمان غړو هېوادونو د افغانستان شتمنۍ نه دي کنګل کړې، بلکې دا اقدام د لوېدیځو هېوادونو له لوري شوی دی. نوموړي ټینګار کړی، چې د دغو شتمنیو د بېرته ازادېدو په اړه باید له امریکا او اروپایي هېوادونو څخه پوښتنه وشي.
په همدې حال کې اقتصادي کارپوهان وايي چې د افغانستان شتمنۍ د افغان ولس ګډه شتمني او بیت‌المال دی، نو باید د سیاسي اختلافاتو قرباني نه شي. د دوی په باور، د دغو شتمنیو ازادېدل کولی شي د هېواد د اقتصادي وضعیت په ښه والي، د بانکي نظام په پیاوړتیا او د پانګونې د فرصتونو په پراختیا کې اغېزناک رول ولوبوي.د نړیوالو اړیکو شنونکي هم باور لري، چې د افغانستان د کنګل شویو شتمنیو موضوع یوازې اقتصادي اړخ نه لري، بلکې سیاسي او جیوپولیټیکي ابعاد هم لري.
د دوی په وینا: یو شمېر لوېدیځ هېوادونه له دغو شتمنیو څخه د فشار د وسیلې په توګه کار اخلي، په داسې حال کې چې د سیمې هېوادونه د افغانستان د اقتصادي ثبات او د شتمنیو د ازادېدو ملاتړ کوي.
د یادونې وړ ده چې په ۲۰۲۱ کال کې د سیاسي بدلونونو وروسته د افغانستان بانک شاوخوا ۹ میلیارده ډالره شتمني په بهرنیو هېوادونو کې کنګل شوه. له دې ډلې ۳.۵ میلیارده ډالره د سویس په «اماني صندوق» کې ساتل کېږي؛ خو اسلامي امارت ورته لاسرسی نه لري. اسلامي امارت له پیله د دغو شتمنیو د ازادېدو غوښتنه کړې او روسیې او چین هم په بېلابېلو نړیوالو او سیمه‌ییزو غونډو کې د دغو شتمنیو د ازادولو ملاتړ کړی دی.

اسلامي امارت . . .

شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون د خپلو خلکو د خدمت لپاره جوړ شوی او ټولو ته یې غېږ خلاصه ده.
له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون رئیس شیخ شهاب‌الدین دلاور ویلي، اسلامي امارت بې‌بدیله نظام دی.
ښاغلي دلاور دغه څرګندونې د هېواد په کچه د دایمن امنیت تامین، بیارغنیزو چارو، د نشه‌یي توکو پر وړاندې مبارزې او د روږدو درملنې برخه کې د اسلامي امارت لاسته‌راوړنو ته په اشاري کړې دي.

د جهادي اثارو . . .

او تخنیکي ظرفیت لوړونې پر لارو چارو خبرې وشوې. د جهادي اثارو د ساتنې لوی ریاست له لوري له ځوانانو د ظرفیت لوړونې په موخه یو لړ وړاندیزونه شوي چې پکې د فریلانسرانو د ملاتړ په موخه د ځانګړو او مناسب قیمت مخابراتي او انټرنټي کڅوړو برابرول او ځوانانو ته د عصري او مجهزو ښوونیزو مرکزونو جوړول شامل دي.
دغه راز د روشن مخابراتي شرکت د ولایتي چارو رئیس محمد اصف شریفي ویلي چې دغه شرکت ژمن دی ځوانانو ته باکیفیته، اغېزمن او د اړتیا وړ مخابراتي او انټرنټي خدمتونه وړاندې کړي.
د کتنې په پای کې، د یاد مخابراتي شرکت استازي د جهادي اثارو د ساتنې لوی ریاست د وړاندیزونو هرکلی کړی او د اړوندو پروګرامونو د تطبیق په برخه کې یې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

پنجشیر کې . . .

د استخراج او پروسس له لارې د صادراتو کچه هم لوړه شي، چې دا چاره د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا او ځان‌بسایني لپاره ځانګړې اهمیت لري.
د معلوماتو له مخې، دا مهال په پنجشیر کې د بیروج او ګرین ګارنیټ د استخراج چارې هم روانې دي او شاوخوا ۲۰۰ کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده. اقتصادي شنونکي باور لري، چې د کانونو د استخراج د پروژو پراختیا نه یوازې د سیمې د خلکو د عایداتو په زیاتوالي کې مرسته کوي، بلکې د ملي اقتصاد د ودې، د پانګونې د جذب او د افغانستان د طبیعي زېرمو د ارزښت د لا ښه استفادې لپاره هم اغېزمن رول لوبوي.

هېواد کې . . .

په نسبي ډول ویجاړې شوې؛ د ۲۲۲۵ جریبه ځمکو حاصلات او ۲۹۵ څاروي هم له منځه تللي دي.
د نوموړې په وینا د یادو پېښو له کبله ټول ټال ۱۹۹ کورنۍ زیانمنې شوې دي.
له پېښو سره د مبارزې اماډګۍ اداري ویاند همدارنګه څرګنده کړې، چې د روان لمریز کال د وري میاشتې له پیل څخه تر دې مهاله په هېواد کې د طبیعي پېښو له کبله ۳۱۴ تنه شهیدان او ۳۹۷ تنه نور ټپیان شوي دي.

عصري ټکنالوژۍ . . .

سیستمونه د دې سبب شوي چې د استخراج بهیر په دقیقه توګه وڅارل شي او د تولید پر وړاندې احتمالي خنډونه په وخت تشخیص شي، ځکه دا چاره د ماشینونو د بې‌ځایه دربېدو مخه نیسي، د لګښتونو په کمولو کې مرسته کوي او په پایله کې د تولید کچه لوړېږي.»
ښاغلی افغان زیاتوي: «عصري ټکنالوژي د کانونو د چاپېریال د دوامداري څارنې امکانات برابروي او د احتمالي خطرونو په اړه مخکې له مخکې خبرداری ورکوي، سربېره پر دې، اتومات او لیرې کنټرولېدونکي تجهیزات په هغو سیمو کې کارول کېدای شي چې د انسانانو لپاره خطرناک وي، ځکه دا کار د پېښو احتمال راکموي، د کار کیفیت لوړوي او د تولید موثریت زیاتوي، نو د همدې لپاره د کارګرانو خوندیتوب زموږ له لومړیتوبونو څخه دی.»نوموړي ټینګار کوي او وايي: «تمه کېږي چې په راتلونکو کلونو کې اتومات ماشینونه، پرمختللې ډرونونه، د معلوماتو هوښیار تحلیل او د کانونو د مدیریت ډیجیټلي سیستمونه لا زیات رواج ومومي او همدارنګه دا ټکنالوژۍ به د کانونو د استخراج بهیر لا خوندي، چټک او اقتصادي کړي.»
د ده په خبره: «د کانونو او پټرولیم وزارت هڅه کوي چې د نړیوالو معیارونو له مخې د نوې ټکنالوژۍ د جذب او کارونې لپاره لازم شرایط برابر کړي، څو د هېواد د معدني سرچینو څخه په اغېزمن او دوامدار ډول ګټه واخیستل شي.»
د کابل ښار یو تن اوسېدونکي، استاد عبدالرشید مراد وایي: «د کانونو په استخراج کې د عصري ټیکنالوژۍ کارول د دې لامل کېږي چې کانونه په دقیق، چټک او خوندي ډول استخراج شي.»
د نوموړي په وینا، د نوې ټیکنالوژۍ په وسیله د طبیعي زیرمو ضایع کېدل کمېږي، د کارګرو خوندیتوب زیاتېږي او د دولت عواید هم لوړېږي. نوموړی زیاتوي، که افغانستان له پرمختللو وسایلو ګټه واخلي، د کانونو سکټور به د هېواد د اقتصادي ودې مهم بنسټ وګرځي.
د کابل ښار یو بل تن اوسېدونکي، عزیزالرحمن، وایي: «عصري ټیکنالوژي نه یوازې د کانونو د استخراج کیفیت ښه کوي، بلکې د چاپېریال د ساتنې په برخه کې هم مهم رول لري.»
د نوموړي په وینا، د پرمختللو ماشینونو او ډیجیټلي سروېګانو په مرسته د کانونو دقیقې زېرمې معلومېږي او غیرمعیاري استخراج کمېږي.
نوموړی زیاتوي، د ټیکنالوژۍ پراخ استعمال به پانګونه زیاته او د ځوانانو لپاره به د کار نوي فرصتونه هم رامنځته کړي.
حضرت بلال صافي

ننګرهار کې . . .

پاچا، د هېواد ورځپاڼې خبریال ته د مرکې له مخې ویلي دي، چې د ننګرهار په ولایت کې د دوا او طبي سامان الاتو په برخه کې درې فابریکې فعالیت کوي او اړتیا په کتلو سره د دوه فابریکو د جوړېدو کارونه جریان لري.
د پاچا په خبره: «اوسمهال په ننګرهار کې ۴۲ قلمه دوا په بېلا بېلو برخو کې تولید کېږي چې د نورو فابریکو په جوړېدو سره پورته ارقام زیات شي او د توزیع په برخه کې به ارین سهولتونه رامنځته شي.»
په ورته مهال د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست مطبوعاتي مسئول، نقیب الله رحیمي ویلي دي، چې په یاد ولایت کې د درملو وېش په ځانګړې طریقه تر سره کېږي چې یو په امارتي روغتونونو کې وېشل کېږي او بل شخصي روغتونونو ته د ډاکټرانو په نسخه معرفي کېږي تر څو د دوا اړتیاوې پرې پوره شي.
د نوموړي په خبره: «په ټولو امارتي شفاخانو کې د خاص او معلومو اکلامو له مخې روغانو ته چې د بستر او خارج د بستر وي، ور کول کېږي چې نږدې ۱۴۰ قلمه دوا کېږي، په مساوي ډول روغتونونو ته توزیع کېږي، کومه دوا چې په دې شمېر کې نه وي، هغه بیا د ډاکټر په نسخه باندې له بېرون څخه اخیستل کېږي.»
د رحیمي په وینا: «ننګرهار ته درمل د هند، چین، ایران او خام مواد هم له دې هېوادونو نه راوارد کېږي چې اوسمهال تکیه ډېره په هندۍ دوا کېږي چې په خوا ور سره د خپلو کورنیو تولید شوو دواګانو څخه هم ګټه پورته کېږي.»
په ورته مهال د دوا پلورونکی، عمران، وایي: «اوسمهال په کور دننه د دوا ډېرې اړتیاوې له کورنیو تولید شوي دواګانو څخه پوره کېږي. د هېواد دواګانو کیفیت له نورو دواګانو څخه ښه دی؛ خو له بده مرغه خام مواد یې له نورو هېوادونو څخه راځي چې ځیني وخت د نرخونو کې بدلون راځي، ولې د کورنیو دواګانو ارزښت له نورو غوره دی.»
د نوموړي په وینا: «مونږ په درملتونونو باندې دواګانې وېشو چې د نورو په پرتله یې بازار هم ښه دی او روغتیاپالان هم هڅه کوي چې د خپلو کورنیو تولید شوي دواګانو څخه په ارزانه بیه ګټه واخلي او د هېوادوالو اړتیاوې له دې لارې نه پوره کړي.»
زیارمل هوتک

د بغلان د بورې. . .

د کورنۍ تولید په زیاتوالي، د کاري فرصتونو په رامنځته کېدو او د بورې د وارداتو په کمېدو کې مهم رول ولوبوي.

کرېکټ؛ لومړی. . .

ویلي: « افغانستان کرېکټ بورډ ژمن دی، چې د ازبکستان په څېر د کرېکټ له نویو او مخ پر ودې هېوادونو ملاتړ وکړي او خپلې تجربې او تخنیکي ورتیاوې ورسره شریکې کړي. افغانستان کرېکټ بورډ له دې وړاندې هم د ظرفیت لوړونې پروګرامونو له لارې د ازبکستان د کرېکټ فدراسیون غړو او یو شمېر لوبغاړو ته روزنیز ورکشاپونه برابر کړي دي. همدارنګه له دې وړاندې د ازبکستان یو شمېر چټکو توپ اچوونکو ته هم د افغانستان کرېکټ بورډ د چټکو توپ اچوونکو په ځانګړي کمپ کې د روزنې او پرمختګ فرصتونه برابر شوي وو.»
نوموړي زیاته کړې:«د افغانستان په اړه د ازبکستان پالیسي تل دوستانه پاتې شوې ده او په وروستیو کلونو کې دواړو هېوادونو په طبي، سیاسي او اقتصادي برخو کې خپلې اړیکې لا پیاوړې کړې دي. موږ باور لرو، چې د کرېکټ د ودې او پراختیا په برخه کې د نږدې همکاریو له لارې به د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا پسې ټینګې او پراخې شي.»
د یادونې وړ ده، چې د افغان یوولس کسیزې لوبډلې نوملړ به وروسته اعلان شي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئيس: انجنيرعُزير بريالی
آمر او مسئول مدير: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډيزاين مسئول: محمديونس مايار
ويبپاڼي مسئول: ګل ولي افغانيار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحيه د حضوري چمن ختيځ-کابل

بريښنايي بڼه | ټويټر
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بيعه

يو ډالر	۶۴.۶۰ اف
يو يورو	۷۳.۵۰ اف
يو پونډ	۸۵.۲۰ اف
يو درهم	۱۷.۵۹ اف
زر ريال	۰۳۹.۰۳۸ اف
زر کلداري	۲۲٤.۲۲۳ اف
زر کلداري	۷۵٤.۷٤٤ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شريف	کندهار	هلمند	فراه	غزني	
۰٤:٤۰	۳٤°C	٤۱°C	٤٤°C	٤٤°C	٤۷°C	٤۷°C	۳۳°C	۰۷:۰۸

ملا عبداللطيف منصور:

د شته امکاناتو مطابق د کډوالو ستونزو ته رسېدنه کېږي

د افغانستان اسلامي امارت د کليو بيارغونې او پراختيا وزير ملا عبداللطيف منصور، د لغمان له والي قاري بختيار معاذ سره کتلې دي.د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې د لغمان والي، په دغه ولايت کې د خښتاک اوبو رسولو په برخه کې د راستنېدونکو هېوادوالو شته ستونزې شريکې کړې.دغه راز د کليو بيارغونې او پراختيا وزير ويلي، چې دغه وزارت د پروژو پلي کولو پر مهال، لومړيتوبونه په پام کې نيسي او د متوازن انکشاف له مخې کار کوي.

ده زياته کړې ده: ((دا زموږ مسئوليت دی چې د راستنيدونکو هېوادوالو لپاره د اوبو رسولو پروژې پلې کړو او د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت به د خپل شته امکاناتو سره سم د کډوالو ستونزو ته رسېدنه وکړي.))

بهرني لنډ خبرونه

وينزويلا کې د زلزلو له امله د مړه شويو کسانو شمېر ۹۲۰ ته لوړ شو

د راپورونو له مخې، په وينزويلا کې د ويجاړوونکو زلزلو له امله د مړه شويو کسانو شمېر لږ تر لږه ۹۲۰ ته رسېدلی او نږدې ځلور زره نور ټپيان شوي دي.د سي‌ان‌ان د راپور له مخې، د ژغورنې ډلې هڅه کوي هغو کسانو ته ځان ورسوي، چې لا هم د ويجاړو شويو ودانيو تر خاورو لاندې بند پاتې دي او د «طلايي وخت» د پای ته رسېدو په اړه اندېښنې زياتې شوې دي.د سرچينې په حواله، تر اوسه د دغو ويجاړوونکو زلزلو له امله ۹۲۰ کسان مړه شوي او نږدې ځلور زره نور ټپيان دي. په راپور کې ويل شوي، چې د کاراکاس، لاګويرا او شاوخوا سيمو ګڼې بې‌کوره شوي کورنۍ د اوسېدو لپاره سرپناه نه لري. په همدې حال کې، يو شمېر خلکو د مرستو رسولو له بهيره شکايت کړی او د ملکي رضاکارانو د مرستې غوښتنه يې کړې ده، څو د خاورو پاکولو چارو کې برخه واخلي.د ډاکټرانو په خبره، ټېرو کلونو کې د بوديجې کموالي له امله د دغه هېواد روغتيايي سيستم د دې جوګه نه دی چې دومره ډېرو ټپيانو ته رسېدنه وکړي.

ايران په سيمه کې د امريکايي ځواکونو پر مېشت ځايونو بريد کړی

د امريکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ ويلي، چې د دغه هېواد ځواکونو په ايران کې ځينې موخې بمبار کړې او ايران هم په سيمه کې د امريکا د پوځي اډو د په نښه کولو خبر ورکړی دی .د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پر خپله تروت سوشل پاڼه ليکلي وو، چې ايران لږ تر لږه څلور بريدګرې بې‌پيلوټه الوتکې د هغو بېړيو پر لور توغولې، چې د هرمز تنګي له لارې د تېرېدو په حال کې وې. له هغه وروسته، د امريکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ (سينټکام)

شنبې په ورځ خبرپاڼه کې ويلي، چې د دغه هېواد ځواکونو په ايران کې ځينې هدفونه بمبار کړي دي. سينټکام ويلي چې د ايران د توغنديو او بې‌پيلوټه الوتکو د ساتنې ځايونه او همدارنګه د دغه هېواد ساحلي راداري مرکزونه يې په نښه کړي دي. يادې قوماندانۍ ويلي، دغه بريدونه يې د هرمز تنګي له لارې پر يوه سوداګريزه بېړۍ د ايران د پوځي اقدام په ځواب کې کړي دي.

لبنان او اسرائيلو د يوې هوکړې چوکاټ لاسليک کړی

د راپورونو له مخې، لبنان او اسرائيل د امريکا په منځګړيتوب له څو ورځنيو خبرو وروسته د اسرائيل او حزب‌الله ترمنځ د جګړې د پای ته رسولو لپاره د يوې هوکړې چوکاټ لاسليک کړی دی. الجزيرې راپور ورکړی چې دغه هوکړه په واشنګټن کې لاسليک شوې او امريکايي چارواکو دا يوې پايدارې سولې ته د رسېدو پر لور «لومړی ګام» بللی دی. امريکا د بهرنيو چارو وزير مارکو روبيو د هوکړې د لاسليک پر مهال ويلي: «لا هم ډېر کار پاتې دی؛ نن لومړی ګام دی او لومړی ګام کله ناکله تر ټولو سخت وي.»د راپور له مخې، نوموړي ځرګنده کړې چې دغه هوکړه له حزب‌الله د «وسلو ټولولو» او له لبنانه د اسرائيلي پوځيانو د وتلو لپاره چوکاټ برابروي.

کانونو او پټروليم وزارت:

عصري ټکنالوژۍ د کانونو د استخراج په صنعت کې د پام وړ بدلونونه رامنځته کړي

د کانونو او پټروليم وزارت مسئولين وايي، په افغانستان کې د کانونو په سکتور کې د عصري ټکنالوژۍ د کارونې بهير روان دی او په ځينو برخو کې عملي پرمختګونه هم شوي دي، ځکه د جيولوژيکي سروې، د معلوماتو د ثبت او د کانونو د ارزونې په برخو کې له نوې ټکنالوژۍ څخه استفاده شوې ده. د مسئولينو په وينا، البته لا هم اړتيا شته چې د پانګونې، تخنيکي ظرفيت لوړونې او زيربناوو د پياوړتيا له لارې د عصري ټکنالوژۍ کارونه نوره هم پراخه شي.

د کانونو او پټروليم وزارت وياند، همايون افغان، هېواد ورځپاڼې ته ويلي: «عصري ټکنالوژۍ د کانونو د استخراج په صنعت کې د پام وړ بدلونونه رامنځته کړي دي. اوس د کانونو د کشف، سروې، ارزونې او استخراج په برخو کې له پرمختللو تخنيکي وسايلو څخه استفاده کېږي چې د کار دقت، سرعت او شفافيت يې زيات کړی دی.»

د نوموړي په وينا: «د سپوږمکۍ انځورونه، ډيجيټلي نقشې او پرمختللي ماشينونه موږ ته دا زمينه برابروي چې معدني زېرمې په ښه توګه وپېژنو او له موجودو سرچينو څخه اغېزمنه ګټه واخلو ځکه ډيجيټلي وسايل د کانونو د عملياتو په مديريت کې مهم رول لري، نو له همدې امله د معلوماتو راټولولو او تحليل عصري . . .

۳مخ

مسئولين:

ننګرهار کې ۱۴۰ قلمه دوا په مساوي ډول امارتي روغتونونو ته توزيع کېږي

د ننګرهار د صنعت او سوداګرۍ رياست مسئولينو ويلي دي چې په دې ولايت کې د طبي سامان الاتو او درملو توليد برخه کې دري فابريکې فعاليت لري چې ور سره د هېوادوالو اړتياووې پوره کېږي. د دوی په خبره: دا چې اړتيا زياته ده، نو د درملو د توليداتو د زياتوالي په موخه دوه نورې فابريکې د جوړېدو په حال کې دي. په ورته مهال د ياد ولايت د عامې روغتيا رياست چارواکي وايي: په ننګرهار کې امارتي روغتونونو په مساوي ډول ۱۴۰ قلمه دوا وېشل کېږي او د هېوادوالو اړتياوو ته پرې رسېدنه کېږي.په دې اړوند د ياد ولايت د صنعت او سوداګرۍ رياست مسئول، سيد عبدالبصير . . .

۳مخ

د بغلان د بورې شرکت د توليد زياتوالي لپاره پر ۴۵۰ جريبه ځمکه لبلبو کري

د بغلان د بورې کارخونې د توليد د زياتوالي په موخه، د لومړي ځل لپاره پر ۴۵۰ جريبه ځمکه د لبلبو کر پيل کړی دی ، د دې کارخونې د مسئولينو په خبره، دغه اقدام به نه يوازې د کارخونې د خامو موادو يوه برخه په کور دننه پوره کړي، بلکې لسګونو کسانو ته به د کار زمينه هم برابره کړي.د بغلان د بورې دولتي شرکت د کرنې مدير، احمد مختار شريفي وايي: ((د بغلان د بورې دولتي شرکت پر شاوخوا ۴۵۰ جريبه ځمکه د لبلبو کر پيل کړی دی. موږ د ۲۸ زره امريکايي ډالرو په ارزښت شاوخوا ۱۲۰ واحده د لبلبو تخمونه له جرمني پېرلي او کر مو يې پيل کړی دی.))د دغه شرکت تخنيکي کارکوونکي، سردار محمد وايي: ((که د سرخ کوتل او پل خاتول پر ځمکو روان کار ته وګورو، هره ورځ تر ۴۰۰ پورې کسان په کې کار کوي. دې پروژې خلکو ته د کار ښه فرصتونه هم برابر کړي دي.))

د بغلان د بورې کارخونې مسئولين ټينګار کوي، کله چې حاصل راټول شي، توليد شوي لبلبو به په همدې کارخونه کې د بورې د توليد لپاره وکارول شي.د دوی په خبره، دا اقدام به . . .

۳مخ

د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې له تعليمي ټولۍ څخه لسګونه قوماندانان فارغ شول

د ماليې وزارت د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې له تعليمي ټولۍ څخه د مرکزي او ولايتي امنيتي مفرروزو او ګرځنده څارنې ۷۰ قوماندانان له ۱۰ ورځني روزنيز سيمينار څخه فارغ شوي دي.د ماليې وزارت د معلوماتو له مخې؛ په همدې مناسبت جوړ شوي مراسمو کې د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين مفتي عبدالمتين سعيد، فارغانو ته په خطاب کې ويلي دي: ((کله چې تاسو خپلو مسئوليتونو ته ور وګرځئ؛ تر خپلو لاس لاندې کسانو او چارو په برخه کې په حق پرېکړه وکړئ؛ د حق پلويان اوسئ، له قوم پرستۍ، لسان پرستۍ څخه ځانونه وساتئ، په خپلو منځونو کې د اتحاد، اتفاق او د ورورولۍ فضا رامنځته کړئ، ځکه په اتحاد او اتفاق کې مو د وطن خير او ابادي ده.)) ده زياته کړې، چې د يوه ښه مسئول صفتونه او نښې دا دي، چې بايد امين وي او له خيانت، فريب، چل او دوکې څخه لرې وي؛ مسئول بايد د نفس تابع نه وي، بلکې مسئول بايد زړور وي او د ښې تجربې او ذکاوت خاوند وي.د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعه د ماليې وزارت اړوند تاسيساتو او سوداګريزو توکو د ساتنې ترڅنګ؛ د قاچاقي توکو، د ملي عوايدو له تېښتې او ګمرکي سرغړونو څخه د مخنيوي مسئوليت پر غاړه لري.

کرېکټ؛ لومړی ځل افغانستان د ازبکستان کوربه‌توب کوي

د ا فغانستان کرېکټ بورډ د شپږيزې کرېکټ ليګ په ترڅ کې د خوست په رحمت ولي مسرور کرېکټ لوبغالي کې د يوې شل اوريزې لوبې لپاره د ازبيکستان د کرېکټ ملي لوبډلې کوربه توب کوي.

د کرېکټ بورډ په وينا: دغه لوبه به د جولای مياشتې په ۱۰مه نېټه د سهار په ۹:۰۰ بجو د يوولسم پړاو اې اند شپږيزه کرېکټ ليګ سوپرکولا سياليو په لړ کې ترسره شي او د هېواد دننه او بهر به د بېلابېلو تلوېزيوني او ډيجيټلي رسنيو له لارې په ژوندۍ بڼه خپره شي.

کرېکټ بورډ زياته کړې، دا سيالي د افغانستان کرېکټ بورډ او د ازبيکستان د کرېکټ فدراسيون ترمنځ د کرېکټ د پراختيا او همکارۍ د هغه تړون پر بنسټ ترسره کېږي، چې د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په لومړيو کې د دواړو ادارو ترمنځ لاسليک شوی و.

د افغانستان کرېکټ بورډ اجرائيوي رئيس نصيب خان . . .

۳مخ

خوست کې د اتوما مخابراتي شبکې يو بل سايټ فعال شو

د خوست د موسی خېلو ولسوالۍ د لادور سر په سيمه کې د سلام مخابراتي شبکې پر سايټ د اتوما مخابراتي شبکې (KST۰۵۲) سايټ فعال او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.د خوست د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د معلوماتو له مخې، د ياد سايټ په فعالېدو سره به د کووخوله، ويچکړي، ګبر، کوسين‌خوله، زوړکوټ، غوزک او شاوخوا سيمې د مخابراتي خدمتونو تر پوښښ لاندې راشي او د سيمې د اوسېدونکو مخابراتي ستونزې به تر ډېره هوارې شي.د ياد رياست مسئولين وايي، چې د لرې پرتو او محرومو سيمو لپاره د مخابراتي خدمتونو پراختيا يې له لومړيتوبونو څخه ده او هڅه کوي، چې د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ اسانتياوې د هېواد ټولو سيمو ته ورسوي.د مسئولينو په وينا، په راتلونکي کې به هم د مخابراتي خدمتونو د پراختيا او کيفيت د لوړولو لپاره هڅې لا ګړندۍ شي، ترڅو ټول هېوادوال له باکيفيته مخابراتي او معلوماتي خدمتونو څخه برخمن شي.